فرستنده: ایمل خان فیضی
نجیب منلی
۱۵ اگست ۲۰۱۱

# دغه

- خبره داسې ده چې دا زمونږ دغه چې دی په دغه کې پروت دی، هوا هم دغه ده او اوبه هم په اسانه نه دغه کېږي نو دلته دغه نه شي دغه کېدای.

جمله به يې کټ مټ همداسې نه وه، خو دي ته ورته يو څه وو. سپين ږيری بابا په کټ کې ناست و، د يوې فرانسوی ژورناليستې پوښتنو ته يې ځوابونه ويل.

زه له دې صحنې سره د پاريس د يو تلويزيوني پروډکشن په ستوډيو کې مخ شوم. له ما څخه غوښتل شوي وو چې په افغانستان کې د اپينو د کرکيلې د ستونزو په اړه د يوه راپورتاژ خبرې وژباړم. اروپايي ژورناليستان داسې نه دي لکه زموږ د ملي تلويزيون راپورتران چې د يوې اونۍ په سفر کوم لېرې پراته ولايت ته ولاړ شي نو د کمرې بېټرۍ يې هم پوره چارج نه لري او کسټ يې هم صرف د نيم ساعت لـه ځانـه سره اخيستی وي. دا راپورتاژ بايد پينځه دېرش دقيقې شوی وای خو کمره مين شل دانې پينځه څلوېښت دقيقه يې کستونه ډک کړي وو. اکثره به د لارې او د طبيعت تصويرونه وو، يا به د خلکو ګڼه ګونه وه، خو کله به په کې څو جملې ويل شوې وې او کله به بيا پوره دوه ساعته مرکه له يوه بې سواده بزګر يا له کوم حکومتي چارواکي سره وه. دا کسټ به د شلو کستونو لسم، دولسم کسټ و. زه سهار په اتو بجو له راپورترې سره ستوډيو ته ننوتی وم او اوس د شپې نهه بجې کېدونکې وې. غرمه مو يوازې شل دقيقې وخت د يو ساندويچ نغړلو تـه وقف کړی و. دواړه بـه ستړي وو. کله مې چې دا جمله واورېده، يوه شېبه ورته چورت يوړم چې اوس يې څنګه وژباړم؟ آخر مې راپورترې ته وويل چې «هېڅ يې و نه ويل!» د هغې سترګې ټېغې ټېغې راوختلې:

- راپورۍ ملنډې وهي؟ سپين ږيری بابا لګيا دی د دېرش ثانيو يوه اوږده بيانيه ورکوي او ته وايې چې هېڅ يې ونه ويل!

په هغه ماښام مو نور کار و نه کړ. شل دقيقې يا نيم ساعت کدرې ژبنيو او فرهنګي تشريحاتو په متې وکړای شول چې فرانسوی راپورتره، چې نيمايي دنيا يې کچ کړې وه، په سلګونو رپوتونه يې جوړ کړي وو، پـه دې قانع کړی

چي بوډا دېرش ثانيي خبري وکړي خو هېڅ يي و نه ويل. بده يي لا دا چي زه يي د دغه «هېڅ» په مانا هم ښه دقيق پوه شوی وم.

**بوډا ويل : « خبره داسي ده چي دا زمونږ [کلی] چي دی په [يوه وچه دښته] کي پروت دی، هوا هم [چندان مساعده نه] ده او اوبه هم په اسانه نه [پيدا] کېږي نو دلته [باغ او باغداري] نه شي [پراخېدای]».**

هر «دغه» د يوې مشخصي کلمي يا پراخ ترکيب پر ځای کارول شوی و نو ځکه د ژباړن ملا ورته ماته وه، هېڅ لار يي نه وه چي دغه جمله يوې اروپايي ژبې ته واړول شي. اوس پوښتنه دلته ده چي ولي زه په دې جمله پوه شوی وم؟

اسانه ځواب يي دا دی چي د «کلام سياق» او د راپورتاژ خاصو شرايطو، ما ته دا اجازه راکوله چي هغه تشه چي د هر «دغه» په لېږې کولو پيدا کېده، ما په داسي څه ډکه کړې وای چي چي په دې ځای کي راته مناسب ښکارېده.

خو خبره دومره ساده هم نه ده. پر دې ډول موضوعاتو د ژبپوهني، ټولنپوهني، توکمپوهني، ارواپوهني، فلسفي، پوهنپوهني (اپيستيمولوژي) او ګڼو نورو پوهنو په لسګونو خورا پېچلي او پراخي تيوری خبري کوي. له هر اړخه يي چي راونيسي نو «مثنوي هفتاد من کاغذ شود».

په دغو تيوريو کي يوه په زړه پوري تيوري «ګشتالت تيوري» (Gestalttheorie) ده. ګشتالت (Gestalt) يوه الماني کلمه ده چي د «شکل، بڼي، مجسم کېدلو» مانا ورکوي. په علومو او فلسفه کي د «شکل» موضوع يوه ډېره زړه موضوع ده. خو کله چي خبره د انسان د «ادراک قوې» ته راشي نو د دغي قوې د سپړلو او څېړلو په اړه ګڼي ستونزې راولاړېږي: هغه کوم مکانيزمونه، کومي لارې چارې، دي چي موږ ته دا وړتيا راښندي چي په يو څه پوه شو؟ طبعا، حواس دلته خپل رول لوبوي. په حواسو کي پينځه له ډېر پخوا راهيسي پېژندل شوي دي: موږ يو څه وينو، يو څه اورو، يو څه بويوو، يو څه څکو او يو څه لمس کوو. خو د دې تر څنګ يو لړ داسي ښکارندې (پديدې) شته چي موږ يي درک کولای شو خو په يو حس پوري يي نه شو تړلای. په وجود کي څړيکه، هغه جسمي ناارامي چي له يو رواني حالت څخه پيدا کېږي، خوند او داسي نور د هغو ښکارندو بېلګي دي چي موږ يي «درک» کوو خو په پينځګونو حسونو کي يو هم په کي دخيل نه ښکاري. ارواپوهان دغه ډول ادراک ته «غير حسي ادراک» وايي. ځيني يي کينېستېسيا (Kinestesthesia) – د حرکت او موقف ادراک – بولي. خو دا هم د ادراک د ټولو ډولونو د توصيف له پاره کافي نه ده.

له شپاړسمي زېږدي پېړۍ را په دې خوا چي تجربي علومو وده وکړه، داسي فکر کېده چي انسان هرڅه تحليلوي بيا پرې پوهېږي. علمي ميتودولوژي هم پر همدې فرضيي جوړه شوه : کله چي يوه موضوع څېړل کېږي نو لومړی په وړو مجموعو وېشل کېږي. په دې ډول د موضوع د هرې برخي د پېچلتيا کچه راټيټېږي او پر موضوع باندې څېړنه اسانېږي.

خو په نولسمه پېړۍ کي د ارواپوهني ځينو مسايلو يو شمېر پوهان دې ته وهڅول چي د «تحليل» پر اصل شک وکړي. د دوی په اند، ادراک داسي څه دي چي پر يو ځای، په ټوليزډول او په آني توګه انسان ته پيدا کېږي ياني د دې پرځای چي هر څه د هغه په اجزاوو ووېشو، ټول هم مهاله زموږ شعور ته لارمومي. دا نظر جرمني څېړونکي ماکس ورتهايمر (Max Wertheimer) په ۱۹۱۲ کال کي د يو علمي مبحث په توګه مطرح کړ.

د ګشتالت تيوري پر څو بنسټونو ولاړه ده:

۱ – تمامیت (Principle of Totality) : د شعور تجربه باید په مجموع کې په نظر کې ونیول شي څکه چې فکر ټول اجزا د یو «سیستم» د برخو په توګه مني او د ټولو برخو ترمنځ ارتباطات په ډاینامیک یا خوزنده ډول سره تړي. د بېلګې په توګه یوه انساني څېره د سترګو، پوزې، خولې، غوږونو، تندي، زنې او اننګیو مجموعه نه ده، څکه که د دغو ټولو عناصرو ترمنځ تناسب او اړیکې په نظر کې و نه نیول شي نو هېڅکله به دغه څېره یوه انساني څېره نه شي. له همدې کبله د ګشتالت تیوري یوه اساسي مقوله وایي چې «ټول» د اجزاوو تر مجموعي زیات وي. همدا مفهوم که په بل ډول بیان شي، دا ښیي چې هېڅ ادراک په مجرد ډول نه رامنځ ته کېږي، بلکې له اره یو جوړښت ورسره مل وي.

د تمامیت د اصل یوه پایله دا ده چې د ګشتالت پلویان وایي چې د څېړنې د پیل ټکی باید عیني تجربه وي نه حسي مشاهده. یانې مخکې له دې چې د یو حقیقت پر حسي مشاهدو بحث وشي، لازمه ده چې د همدغه حقیقت څرګندوونکې عیني تجربې وکتل شي. د خبرې د روښانتیا په موخه یو ډېر بدیهي مثال را اخلم: موږ وینو چې اسمان شین دی خو په اسمان کې داسې څه نه شته چې شین رنګ ولري. د ځمکې له اتموسفیر څخه د لمر دوړانګو تېرېدل هغه عیني تجربه ده چې موږ د اسمان د رنګ واقعیت ته رسوي.

همدا راز د ګشتالت پلویان د لابراتواري تجربو په نسبت رېښتینو طبیعي تجربو ته ترجیح ورکوي : لابراتواري تجربې دې ته لار هواره کړه چې د دروغو د کشف ماشینونه جوړ شي. دا ډول ماشینونه چې د زړه درزا، د وینې فشار او یو څو نور فیزیکي علایم ثبتوي او بیا ترې نتیجه اخلي چې تر پوښتنې لاندې کس دروغ وایي که رېښتیا خصوصاً د امریکا عدلي سیستم ډېر کارولي دي او په زرګونو ځله یې د استعمال پایله عدلي اشتباهات وو. د یو تن د څرګندونو د دروغ او رېښتیا مالومول د ګشتالت له نظره هغه وخت شوني دي چې موږ دغه کس په رېښتینې ژوند کې و څېرو او دا څرګندونې یې د عیني تجربو په رڼا کې و ارزوو.

۲ – ارواییز یورنګي (Principle of Psychological Isomorphism) : هره شعوري تجربه په ذهني فعالیت کې خپل مماثل لري. په بل عبارت، هغه روابط چې په واقعي نړۍ کې شته، هغو ته په «جوړښت کې ورته» روابط د واقعي نړۍ په ادراک کې هم شته او په ارواییز فعالیتونو کې هم شته.

۳ – ادراک د انځور او د پردې تر منځ بېلتون ته وایي.



دا انځور د «روبین لوښی» نومېږي. انځور یو لوښی دی او شاوخوا یې د انځور پرده ده. خو که په بل نظر ورته وګورو نو کېدای شي چې انځور دوه مخامخ څېرې وي او پرده یې هغه تشه فضا وي چې د لوښي بڼه لري.

۴ – د شکلونو جوړښت یوه تصادفي عملیه نه ده بلکې پر یو لړ طبیعي قانونونو ولاړ دی. دا طبیعي قانونونه ځان په خپله پر شعور مني:

- ښه شکل : کله چې موږ د ټکو يوه مجموعه ووينو نو لومړی ټکي سره ښېل ښېل نه وينو، يو شکل ورکوو چې هم ساده وي، هم تناظر ولري او هم ثابت وي ياني يو «ښه شکل» وي.

په لاندې انځور کي انځورگر يوازې تور ټکي د تابلو پر مخ جوړ کړي دي چې په خپلو کي سره هېڅ ارتباط نه لري، خو د دغو ټکو مجموعه بيا خپل شکل غوره کوي:



- ټړلتيا : کله چې موږ يو شمېر ټکي وينو نو لومړی تمايل مو داوي چې دا ټکي سره ټړلي ووينو. په اسمان کي د ستورو مجموعي چې خلکو نومونه هم ورکړي دي لکه «کټ» يا «د دلدل لار» موږ ته د سره ټړلو کرښو په ښه راښکاري.

- نېږدې والی : موږ په طبيعي ډول هغه ټکي سره يو ځای کوو چې سره نېږدې وي.




په «الف» کي شپږ عمودي لړونه وينو، په «ج» کي شپږ افقي لړونه راتـه ښکاري او پـه «ب» کـي پـه يوه مربع کي په مساوي توګه وېشل شوي ټکي تشخيصوو. په دې انځور کي شپږدېرش ټکي ، شپږ شپږ سره کتار شوي دي خو کله چې ورته وګورو نو ذهن ته مو د شپږ دېرش ټکو مفهوم نه راځي.

- ورته والی : که د ټکو تر منځ واټن دومره ډېر وي چې سره ټړل يې ستونزمن شي نو بيا هغه کوو هغه ټکي سره وټړو چې يو له بل سره ډېر ورته والی ولري.



په دې انځور کي تور ټکي يوه مجموعه جوړوي او سپين ټکي يوه بله مجموعه جوړوي ياني د ادراک په پروسه کي «ګرد» له «ګرد» سره نه ټړل کېږي بلکي «ګرد-تور» له «ګرد-تور» او «ګرد-سپين» له «ګرد-سپين» سره ټړل کېږي.

- حدود : د يوه شي درک کول په دې مانا دي چې موږ د هغه شي حدود مشخص کړای شو.



په دې انځور کي که څه هم نه دايره پوره رسم شوې ده او نه مستطيل خو موږ د دواړو «شيانو» حدود سره بېلوو او بېل بېل هويت يې منو.

- ګډ برخلیک : کله چې موږ خوزنده شیان په نظر کې نیسو نو لومړی سره هغه شیان «تړو» چې په یو لوري روان وي. که پر سړک ګرزو نو هغه موټر چې له ښي خوا کیڼي ته ځي له هغو موټرو هم بېلوو چې له کیڼي خوا ښی خوا ته روان دي او له هغو یي هم بېلوو چې د سړک پر غاړه پارک شوي دي. که په پارک شوو موټرو کې یو یا څو داسې وي چې د عمومي جریان خنډ کېږي هغه بېل ګڼو.

د ګشتالت اصول او قانونونه هنر کې، په تېره بیا په نقاشۍ کې، په پراخه پیمانه د نویو، غیر منتظره تاثرونو د پیداکولو له پاره استخدام شوي دي.

کله چې شکل ځان پر ذهن ومانه نو بیا ذهن دې ته ډېره لېوالتیا نه ساتي چې په طبیعي ډول د جزییاتو پسې وګرزي:



په دې انځور کې موږ یو سپین ږیری سړی وینو چې دسمال یې پرغاړه دی او لاس یې پرسینه ایښی دی خو که ورته ځیر شو نو د نورو په زړه پوري جزییاتو تر څنګ به ووینو چې د سړي لاس په حقیقت کې یو پروت سپی دی او غوږ او ګرېوان یې د پراخ کمیس والا یوه مېرمن ده، په داسې حال کې چې پوزه او ږیره یې یو ولاړ بوډا دی او تنه یې په باران وهلي سړک د رڼا انعکاس.



پورتنی انځور په لومړي سر کې د ساکسوفون یو غږوونکی راښیي خو که لږ ورته ځیر شو، د کاغذ سپین والی مو د یوې ښځې انځور سترګو ته دروي.

همدا د ګشتالت مفهوم د سپین ږیري بابا «دغه» ته هم غځول کېږي. دا چې ولې افغان فکر دا ډول جوړښت په اسانه مني خو فرانسوي فکر یې منلو ته نه دی چمتو، علت یې دا دی چې «بنه» یا «شکل» زموږ د ذهني جوړښتونو په چوکاټ کې ځای نیسي. دا چوکاټ مطلق فطري چوکاټ نه دی چې د ټولو انسانانو سره شریک وي، فرهنګي اړخ هم لري : افغانان ډېری وختونه په یو عام تصور بسنه کوي او نور پرې سر نه خوږوي. موږ چې «دغه» وویل او دې نتیجې ته ورسېدو چې مخاطب مطلب واخیست نو بیا د «دغه» د مشخصولو ضرورت نه احساسوو.

 

ښي لاس ته په کابل کې د «شام پاریس» په نامه د ودونو د يو مشهور سالون مخې ته د فرانسې د ايفل د برج يوه کاپي ده چې افغان هنرمند يا «استاکار» جوړه کړې ده او کيڼ لاس ته په پاريس کې د ايفل د اصلي برج يو انځور دی. دا دواړه انځورونه څومره سره ورته دي؟ خو د افغان ذهن له پاره همدومره کافي ده چې يوه فلزي ستن چې پر څلورو پښو ولاړه وي او سر يې تر بېخه نرۍ وي چې پاريس ورته تداعي کړي. د مشاهدې د دقت نشتوالی په کابل کې کتونکو ته د پاريس او رڼاګانو د ښار د انځور د تداعي له پاره هېڅ ستونزه نه پيدا کوي، يا په بل عبارت «افغان کتونکی دغه کاپي د ايفل په برج مني» خو طبعاً که دواړه انځورونه سره څنګ په څنګ وښوول شي نو د کاپي کوونکي د مشاهدې د دقت کمزوري په کې له ورايه ښکاري.

دا ستونزه ، خوښه مو که ځانګړتيا يې بولئ، زموږ په ادبياتو کې خورا ډېره ليدل کېږي. زموږ شاعران او ليکوالان چې د مفهوم د رسولو له پاره څو توکي سره راټول کړي بيا په دې پسې نه ګرزي چې هره کلمه په خپل ځای او خپله دقيقه مانا کارول شوې که نه او دا هم ورته اهميت نه لري چې وګوري چې جمله له ګرامري لحاظه روغه ده که ګوډه.

د کوم بې تجربې ليکوال په بيره سره پېيل شوې ليکنه به له کوم ويبسايټه نه را اخلم، د افغانستان د حکومت يوه خپرونه به راواخلم چې په ښکاره يې د ليکلو طرز او ادبي کيفيت ته له معمول ډېره توجه شوې ده. يو پاراګراف ترې کټ مټ رانقلوم:«په دې رساله کې د سولې د ملي مشورتي جرګې د بهير، موخو، د غړو د شمېر، د کار د سيستم، لوژيستيکي خدمتونو او د دې جرګې د اجندا په اړوندو بحثونو کې د جرګې د محترمو غړو د ګډون په باب بشپړ توضيحات راغلي دي. پر دې سربېره د هېواد د تاريخ په اوږدو کې د جرګو د جوړېدو د لرغونتيا په اړه په زړه پورې معلومات ځای شوي دي.»

پرته له شکه چې په دې متن کې هم د ژبې معيار ته پوره پام شوی دی، هم يې د ليکلو طرز د ستاينې وړ دی او هم يې په وضاحت کې د ګوتې ايښودو ډېر ځای نه شته. هر لوستونکی يې چې لولي، پوره مطلب ترې اخلي او په لومړي نظر به په کې هېڅ ستونزه و نه ويني. خو :

- په رساله کې د يو څه په باره کې بشپړ توضيحات راغلي. دا څه، څه دي؟ د سولې د ملي مشورتي جرګې د جوړېدو بهير، د همدې جرګې موخې، د هغو کسانو شمېر چې د جرګې غړي دي، د جرګې د کار سيستم. تر دې ځايه هر څه تقريباً سم دي. ورپسې «لوژيستيکي خدمتونه» راځي. د جرګې لوژيستيکي خدمتونه بايد هغه لوژيستيکي خدمتونه وي چې جرګه يې کوي. خو دلته مقصد هغه خدمتونه دي چې جرګې ته کېږي. بيا «د دې جرګې د اجندا په اړوندو بحثونو کې د جرګې د محترمو غړو ګډون» يادېږي. د «اجندا اړوند بحثونه» بايد هغه بحثونه وي چې موضوع يې «د جرګې اجندا» ده. دا خبرې خو د جرګې تر جوړېدو مخکې شوې دي نو بيا به دا بحثونه هغه بحثونه وي چې د جرګې په اجندا کې

ورته ځای ورکړ شوی دی. په دې حساب د متن په دې جمله کې کم له کمه دوه داسې ټکي راغلي چې «شکل» یې له «محتوا» سره نه جوړېږي.

- د جرګې د جوړېدو بهیر څه ته وایي؟ که بهیر ته یو مناسب مترادف ولټوو نو شاید چې په دې ځای کې «جریان» غوره انتخاب وي. «د جرګې د جوړېدو بهیر» به بیا ټولې هغه پېښې وي چې د جرګې تر جوړېدو مخکې، د جرګې د جوړېدو له پاره ترسره کېږي. دلته دوه پوښتنې راولاړېږي چې ځواب یې باید ولټول شي: آیا «بهیر» د «جریان» په مانا کارول کېدای شي؟ آیا په رساله کې مقصد همدغه زماني واټن دی چې د لیکلو له وخته د جرګې د جوړېدلو تر شېبې پورې رسي او که هغه وخت هم په کې شامل دی چې جرګه جوړه وي او بحثونه روان وي؟ بیا هم د «بهیر» کارونه څومره سمه ده؟
- د نقل شوي پاراګراف دویمه جمله، چې اصولاً باید مستقله وي، وایي چې «د جرګو د جوړېدو د لرغونتیا په اړه په زړه پورې معلومات» چېرته ځای شوي دي. د «چېرته» ځواب که په همدې جمله کې و لټوو نو را څرګنده به شي چې دغه معلومات « د هېواد د تاریخ په اوږدو کې» ځای شوي دي. جوته ده چې د لیکوال مقصد دا نه و، دا ویل یې غوښتل چې معلومات په رساله کې ځای شوي دي او دا معلومات له یو «زماني ظرف» سره ارتباط لري چې هغه «د هېواد د تاریخ اوږده» دی.

که د ګشتالت له مفهومه زېږېدلیو دغو نازکیو ته پام و نه کړو نو زموږ خپل لوستونکي او اورېدونکي خو به زموږ په خبره پوه شي مګر زموږ ادبیات به هېڅکله د دې جوګه نه شي چې زموږ له جوسه لږ وراخوا هم ورته څوک د ادبیاتو په سترګه وګوري.

برعکس که موږ د ګشتالت تخنیکونه په خپلو ادبیاتو کې په دقت سره وکاروو، زموږ ادبیات به د بداېني پرلور ستر ګامونه واخلي.

ډېر خله د یو څه نه یادول په خپله د هغه څه د تداعي له پاره تر ټولو اغیزمنه وسیله ده. د بېلګې په توګه دا صحنه:

«دواړه لاسونه یې په شلېدلو پلاستیکي څپلیو پوښلي وو. د سیند غاړې ته، پر یخ وهلي سرک، په سینه داسې ښویېده لکه له اوبو راوتلی کب چې پړتکې وهي.»

په دې صحنه کې هېڅ داسې عنصر نه شته چې د کرکټر د پښو حالت انځور کړي، خو هر لوستونکی پوهېږي چې شل دی.

زموږ ښو لیکوالانو او شاعرانو په طبیعي ډول دا تخنیک کارولی دی. پیر محمد کاروان وایي:

مرغان دې راشي زموږ لېو کې دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري، کلی مو چنار نه لري

دلته شاعر دا نه دي ویلي چې زموږ لېې د دعا له پاره پورته شوې دي، دا یې هم نه دي ویلي چې زموږ دغه دعاوې له څه مودې راهیسې بې اجابته پاتې دي. د هېواد تېر ناورینونه یې هم نه دي یاد کړي چې په غرونو کې یې راته نښتر لوګی کړل او په کلو کې یې راته چنارونه وچ کړل. شاعر دا هم نه دي ویلي چې جنګونو له موږ څه واخیستل. شاعر یوه صحنه انځوروي : غرونه لغړ دي، کلي بې ونو دي، مرغان د ځالې جوړولو له پاره ځای نه مومي او زموږ لاس په دعا پورته دي. نور ټول هغه مفاهیم چې موږ یې د دې صحنې شاته مومو، د ګشتالت له برکته یې مومو.

لکه څرنګه چې د لوړې د رفع کولو له پاره دا لازمه نه ده چې سړی دې د «خوړل» فعل ګرامري څانګړتیاوې و پېژني، همدغه شان د عملي فعالیتونو د ښې اجرا له پاره د دغو فعالیتونو پر تیوریکو بنسټونو حاکمیت تـه اړتیا نـه شته خو که وغواړو چې په دې لار کې پرمختګ وکړو نو لازمه ده چې یوازې د کار ښې اجرا تـه و نـه ګورو، دا هم په نظر کې ونیسو چې څه وشول چې کار ښه اجرا شو یانې تیوري یې باید پیدا کړو. کـه زموږ ځوان لیکوالان پـه علمي تیوریو کـې کلـه نـا کلـه د کرواړې کولـو زحمت پر ځان ومنـي، پرتـه لـه شـکه چـې نـوې، پراخـې او لـه ښکلاوو ډکې لارې به پرانیزي.